مطبوعاتي اعلاميه

## د خلافت لپاره دعوت د ټولو مسلمانانو شرعي مکلفيت دی، مجرمان هغه څوک دي چې دعوتگران تعذيبوي

د حزب‌التحرير درې تنه غړي د روان کال د ثور په مياشت کې په هرات ولايت کې د استخباراتو ځواکونو لخوا خلافت او د امت يووالي ته د دعوت په «جرم» نيول شوي دي. استخباراتو د يوه دعوتگر د نيولو پر مهال په تېروتنه کې د هغه ورور، چې له مسجد څخه کور ته پر لاره و، نيولی دی. کله چې دعوتگر د خپل ورور د ازادولو او د ځان د تسليمولو لپاره استخباراتو ته مراجعه کړې، استخباراتو د قانون او شرعي عرف خلاف دواړه ورونه بنديان کړي دي. قانوني اصل دا دی؛ کله چې مظنون خپل ځان تسليم کړي، نو څوک چې په تېروتنه کې نيول شوی وي، بايد ازاد کړل شي. دغه راز يو تن بل دعوتگر د هرات په يوه مسجد کې د تفسير د حلقې د مختې ورلو په وخت کې نيول شوی دی. د هرات د استخباراتو ځواکونو لومړی دغه اشخاص سخت وهلي ټکولي او بيا يې د «مصنوعي ډوبولو» او «پلاستيکي کڅوړې په واسطه خفه کولو» په روشونو سخت شکنجه کړي دي.

**موږ د مسلمانو دعوتگرانو پر ضد له تاوتريخوالي ډکې کړنې په کلکو ټکو غندو او له ټولو شرعي او انساني ارزښتونو او اصولو سره يې په ټکر کې بولو. دغه ډول شکنجې د اشغالگرو په زندانونو لکه؛ ابوغريب، گوانتانامو او بگرام کې اوږده مخينه لري او له بده مرغه داسې ښکاري چې د استخباراتو ځينې کړي د دغو ظالمانه کړنو په ترسره کولو کې له هغو زندانونو څخه تقليد کوي.**

د استخباراتو مسولين د دعوتگرانو شکنجو او ځورونو ته څه شرعي توجيه لري؟ د اکثريت علماوو فقهي نظر پر دې دلالت کوي، چې د هر مجرم شکنجه کول جايز نه دي؛ د دعوتگرانو شکنجه کول خو لا پرېږده. د نظام رهبرۍ په واضح توگه فرمان ورکړی، چې په زندانونو کې بايد شکجنه ونه شي. خو د استخباراتو په زندانونو کې دغو فرمانونو ته هېڅ پام نه کېږي او نه ارزښت ورکول کېږي. ايا استخبارات د دغو غيرشرعي کړنو په ترسره کولو سره پر يوه خپل‌سري سازمان بدل شوی او که شرعي اصولو ته ژمن دی؟ ځکه هغه کسان چې د اسلام، ايمان او جهاد ادعا لري، کړنې او چلند يې بايد د هوای نفس پر بنسټ نه، بلکې د شرعي حکم له مخې وي.

**﴿إِنَّ الَّذِينَ فَتَنُوا الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ ثُمَّ لَمْ يَتُوبُوا فَلَهُمْ عَذَابُ جَهَنَّمَ وَلَهُمْ عَذَابُ الْحَرِيقِ﴾** [بروج: ۱۰]

***ژباړه:*** *«کوم کسان چې نارينه او ښځينه مومنان شکنجه کړي، بيا توبه ونه کړي، د هغو لپاره د دوزخ او سوځوونکي اور عذاب دی.»*

موږ پوهېږو چې د نظام دننه او همدرانگه د استخباراتو په راس کې مخلص مسولین شته چې له دغو شکنجو سره مخالف دي. خو که چېرې دغه کسان چوپ پاتې شي او خپل همکاران له منکراتو څخه منعه نه کړي، دا فتنه نوره هم پراخېږي او د الله سبحانه وتعالی د عذاب د نازلېدو په وخت کې به د مخلص او غیرمخلص تر منځ هېڅ توپیر نه وي او ټول به له قهر او عذاب سره مخ شي.

**وَاتَّقُوا فِتْنَةً لَا تُصِيبَنَّ الَّذِينَ ظَلَمُوا مِنكُمْ خَاصَّةً ۖ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ [الانفال:۲۵]**

**ژباړه:**« *له هغې فتنې څخه ځانونه وساتئ، چې ناوړه اغېز يې يوازې تر هغو خلکو نه محدودېږي چې ظلم کوي (بلکې که چېرې د ظالمانو مخه ونه نیول شي، د هغوی د گناه په سبب وچ او لامده دواړه سوځوي) او پوه شئ چې الله سخت سزا ورکوونکی دی.*»

ځینې مسولین دا گومان کوي چې د نظام بقا د احزابو په مخنیوي او د دعوتگرانو په ځپلو کې ده. دا تفکر نه یوازې د اسلام له احکامو او ارزښتونو سره په ټکر کې دی، بلکې له ځان سره به د ټولنې لپاره ناوړه پایلې هم ولري. جمعي او حزبي فعالیت د بشري ټولنو لپاره یوه فطري او اړینه چاره ده. تاریخ ښودلې ده، هغه ټولنې چې "ویښوونکو احزابو" ته یې اجازه نه ده ورکړې، له نزول او ژور انحطاط سره مخ شوې دي. د دې موضوع څرگندې بېلگې منځنۍ اسیا، سعودي او ایران دي. په دغو هېوادونو کې که څه هم دولتونه د اسلام خلاف سیاستونه پر مخ وړي، خو د حزبي فعالیت د نشتون له امله یې خپلو غیرشرعي سیاستونو ته خلک هم تسلیم کړي دي او ان له هغوی څخه یې پر معروف د امر کولو جرات اخیستی دی. په حقیقت کې د «ویښوونکو احزابو» له فعالیت پرته ټولنه له فکري، سیاسي او جهادي مبارزې څخه محرومېږي او خلک د پردیو د پلانونو ښکار گرځي.

په واقعیت کې پر مسلمانانو فرض ده، چې د نبوت پر منهج د خلافت د تاسیس لپاره په حزبي ډول فعالیت وکړي. پر همدغه اساس حزب‌التحریر په نړیواله کچه له اندونیزیا تر مراکشه د خلافت د تاسیس لپاره فعالیت کوي. زندان، ځورولو او شکنجې د دعوتگرانو اراده او استقامت نه دي کمزوري کړي، بلکې دغې وجیبې ته په لا ډېره انرژۍ دوام ورکوي.

**د حزب التحریر – ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر**